SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتی ارګان

دوېم کال نه پنځوسمه ګڼه پرله پسې (۱۵۹) یکشنبه د۱۴۱۹هق کال دجمادي الاول (۸) د۱۳۷۷ هـ ش کال د وږي دمیاشتې (۸) د۱۹۹۸ میلادي کال د اګست (۳۰)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسې !. همدا (عدل) ډیر نږدې دی تقوا(پرهیزګاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتی بگذارید.

په الهي نصرت سره

د پروان ولایت د شینواري ولسوالي په بشپړه توګه فتحه شوه

په دې بریالیو عملیاتو کې په ډېره پیمانه سپکې او درنې وسلې او د دښمن سل تنه افراد د اسلامي اردو د ځواکونو لاس ته ورغلي دي

د افغانستان د اسلامي امارت د اردو په تصفیوي عملیاتو کې چې د غوربند د ولسوالۍ له استقامت نه پیل شول د پروان ولایت د شینواري ولسوالي سره شپه د هغې له ټولو اداري واحدونو سره په الهي نصرت فتح شوه او د اسلامي امارت سپین بیرغ په کې ورپول شو . د باختر اطلاعاتي آژانس د حواد د پوځي سرچینو له خولې خبر راکړ : د اسلامي امارت د اردو د مجاهدینو په دغو تصفیوي عملیاتو کې چې تېره شپه د غوربند د درې له لورې پیل شول د پروان ولایت د شینواري ولسوالي او د هغې

تفصیل مخ

د سمنګانو د ولایت د لوچې عالمانو او روحانیونو د یوې غونډې په ترڅ کې له اسلامي امارت سره خپل بشپړ ملاتړ څرګند کړ

د سمنګانو ولایت لوچې د کلي عالمانو روحانیونو او پښتنو دېنداړو ملکو د جمادي الاول په پنځمه له غرمې مخکې د یوې غونډې په ترڅ کې د افغانستان له اسلامي امارت سره خپل بشپړ ملاتړ او پیوستون څرګند کړ .
د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ: په دې غونډه کې له هغه وروسته چې د کلام الله مجید څو ایتونه ولوستل شول د سمنګانو ولایت امنیه قوماندان محترم قاري فیض محمد او محترم ملا اغا جان په وار سره د الهي حکمونو د عملي کولو په هکله د اسلامي امارت د هدفونو او پروګرامونو په باره کې خبرې وکړې او وروسته څو تنو مخورو خلکو په دې ترڅ کې چې له اسلامي امارت سره خپل بشپړ ملاتړ او پیوستون څرګند کړ د اسلامي نظام د لا زیات ټینګښت او په هیواد کې د سراسرې سولې او سیاسي ثبات تامینولو په لاره کې خپل تیاری څرګند کړ .

پروتوکول فعالیت هاي سیستم مخابراتي بین المللي بین وزارت هاي مخابرات امارت اسلامي افغانستان و جمهوري اسلامي پاکستان به امضا رسید

پروتوکول فعالیت هاي سیستم مخابراتي بین المللي بین وزارت هاي مخابرات امارت اسلامي افغانستان و جمهوري اسلامي پاکستان به تاریخ ۵ جمادي الاول در اسلام آباد به امضا رسید .
آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد به اساس یاد داشت تفاهمي که در سال ۱۳۷۲ انعقاد یافته بود پروتوکول فعالیت هاي رسمي مخابره بین المللي با کشور دوست

ص ۴

محترم مولوي وکیل احمد «متوکل» در مصاحبه با افغان اسلامي آژانس :

سازمان ملل متحد از خود آزادي و اراده ندارد

امارت اسلامي تعلیم و تربیه زنان را حق مسلم آنها میداند

زماني که مجاهدین اردوي اسلامي در صفحات شمال پیشروي هاي قابل ملاحظه یي نمودند عناصر کفري با وارخطایي اسامه بن لادن را بهانه قرار دادند در حالیکه موجودیت حکومت اسلامي براي آنان قابل پذیرش نمي باشد زیرا اسامه قبلاً نیز در افغانستان وجود داشت .
این مطلب را محترم مولوي وکیل احمد متوکل سخنگوي امارت اسلامي با آژانس اسلامي افغان ابراز داشته افزود بعضي از سازمان هاي جهاني از حقوق بشر در افغانستان انتقاد مي نمایند که طالبان گویا حقوق اسلامي و انساني آنان را نقض مي نمایند.

ص ۴

مولوي فضل احمد "فیضان" معین وزارت تجارت در مصاحبه با آژانس اطلاعاتي باختر :

ترکمنستان در عرصه تجارت با امارت اسلامي هیچ مشکلي ندارد

در رابطه باصدور تیل و گاز مایع به افغانستان بامقامات ترکمنستان موافقه صورت گرفت

محترم مولوي فضل محمد فیضان معین وزارت تجارت که چندي قبل در رأس هیئتي جهت عقد قرار داد تیل و گاز مایع به جمهوري ترکمنستان سفر نموده بود در مصاحبه با خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر پیرامون نتایج این سفر گفت : طي سفر کاري که به آن کشور داشتیم از جانب مسؤولین آن جمهوریت به گرمي استقبال شدیم و مذاکرات و تبادل نظر ها میان ما در فضاي نهایت صمیمانه و دوستانه صورت پذیرفته و نتایج مثبت در پي داشت .
موصوف گفت در

ص ۴

زمونږ د هیواد په مقدس حریم باندې د امریکا راکټي برید پرون هم د هیواد په داخل او بهر کې د درنو مارشونو او لاریونونو په ترڅ کې وغندل شو

زمونږ د هیواد پر مقدس حریم باندې د امریکې راکټي بریدونه د جمادي الاول په پنځمه او شپږمه هم زمونږ د متدینو خلکو او د ملکي او نظامي ادارو منسوبینو له خوا په مرکز او ولایاتو کې د پراخو مارشونو او مظاهرو په ترڅ کې وغندل شول.
د باختر اطلاعاتي آژانس په مرکز او ولایاتو کې د خپلو خبریالانو د رپوټونو له مخې خبر راکړ : په دغو مارشونو

ص ۴

در حدود ۱۶۹۳ میل سلاح مختلف النوع به همکاري مردم ولسوالي هاي چاربولك و دولت آباد ولایت بلخ از آن ولسوالیها جمع آوري گردیده است

در حدود یك هزار و ششصد نودو سه میل سلاح مختلف النوع اخیراً به همکاري مردم متدین ولسوالي هاي چار بولك و دولت آباد ولایت بلخ از مربوطات آن ولسوالي ها جمع آوري گردیده است .
خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر مزار شریف خبر میدهد : در پروسه جمع آوري سلاح و مهمات در مربوطات ولایت بلخ مردم متدین آن ولایت سهم ارزنده یي داشته و با همکاري صادقانه و مخلصانه شان در حدود ۱۶۹۳ میل سلاح مختلف النوع در مربوطات ولسوالي هاي چار بولك ، بلخ و دولت آباد ولایت بلخ توسط مجاهدین اردوي اسلامي جمع آوري گردیده که به قوماندان امنیه شهر مزار شریف تسلیم داده شده است .
خبر مي افزاید که نه تنها مردم ولایت بلخ بلکه اهالي متدین ولایاتیکه اخیراً توسط مجاهدین اردوي اسلامي

ص ۴

قوماندان اسد الله با دو هزار تن افراد مسلح خود به صفوف اردوي اسلامي پیوست

آژانس اطلاعاتي باختر از ولایت بلخ خبر میدهد: قوماندان اسد الله مربوط باند محسني در ولسوالي چارکنت ولایت بلخ از مخالفت با امارت اسلامي دست کشیده و با دو هزار تن افراد مسلح خود به صفوف اردوي اسلامي پیوست شد . آژانس مي افزاید : قوماندان متذکره علاوه بر سلاح هاي خفیف دست داشته شان نه چین تانك، شش ضرب توپ و یك دستگاه بي ام ۴۱ را هم به مسؤولین اردوي اسلامي تسلیم نمودند .

میان ملیشه هاي مسعود جنگ شدیدي در شمال کابل درگرفته است

در اثر این برخورد ده تن از افراد محل هم مجروح گردیده و تلفات زیاد مالي به اهالي آنجا رسیده است

خبر هاي واصله از ولسوالي فرزه و میر بچه کوت حاکیست که جنگ شدیدي میان افراد قوماندان امان الله گذر و یک تن از قوماندانان مربوط ولسوالي فرزه در گرفته است که در نتیجه آن چهار تن از افراد مسلح طرفین کشته و ۱۵ نفر دیگر آن مجروح گردیدند. خبر مي افزاید که در اثر این برخورد ده تن از افراد محل هم مجروح گردیده و تلفات زیاد مالي به اهالي آنجا رسیده است .

رادیو و مطبعه ولایت فاریاب مجدداً به فعالیت آغاز نمود

آژانس اطلاعاتي باختر از ولایت فاریاب خبر میدهد : که در اثر سعي و تلاش هیأت اداري و فني وزارت اطلاعات و کلتور که از ولایات مفتوحه شمال بازدید مي نمایند رادیو و مطبعه ولایت متذکره مجدداً به فعالیت آغاز نمود.
محترم داکتر باز محمد شادمن رئیس هیأت متذکره طي محفلي در مورد اهمیت موضوع و نقش مطبوعات در کشور صحبت نموده ، آماده گي هیأت مربوطه را در راه احیاي مراکز کلتوري ، فرهنګي و نشراتي ولایات شمال کشور اطمینان دادند .

سرمقاله

دلوي خداي اچ، په نامه

ایراني چارواکي باید د اسلامي امت ګټو ته ارزښت ورکړي نه خپلو غوښتنو ته

داسې راپوروته خپرېږي او دوله ایزو خپرونو ځینې سیمه ایزې او نړیوالي ځانګې هم په خپلو تحلیلونو او څېړنو کې دا خبره په ګوته کوي چې د ایران د اسلامي جمهوریت واکداران نیت لري تر څو د افغانستان پر اسلامي امارت باندې پوځي برید وکړي او په نتیجه کې یې خپل لاس پوڅي یو ځل بیا د افغانستان په ځینو برخو باندې حاکمان وګرځوي، ددې خبر د تائید لپاره خبري سرچینې او د چارو څېرونکي د افغانستان پولې ته ځېرمه د ایران د وسله وال پوځ د ځینو قوتونو د ځاې په ځاې کېدو او د پوځي مشقونو په پلمه د دواړو هیوادونو تر منځ د پولې تر څنګ د ناڅاپي راټولېدو مسئله دلیل راوړي حتی لا دا چې د سیمې ځینو خپرونو دا ادعا هم کړې چې ایراني پوځ به د امریکې

ص ۲

سیمینار تربیوي لابراتوار ها براي کارمندان فني و مسلکي وزارت صحت عامه دایر گردید

سیمینار تربیوي لابراتوار ها به تاریخ ۵ جمادي الاول براي کارمندان فني و مسلکي وزارت صحت عامه دایر گردید.
آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد در سیمینار متذکره که به کمك

ص ۴

شبکه مخابراتي اداره هواشناسي ریاست عمومي هوانوردي فعال و مورد استفاده قرار گرفت

شبکه مخابراتي اداره هواشناسي ریاست عمومي هوانوردي ملکي و توریزم که نسبت جنگها ، اصابت راکت ها و بم ها بکلي فلج گردیده بود دو باره فعال و مورد بهره برداري قرار گفت.
آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : با آغاز فعالیت

ص ۴

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسوول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پوست بکس : (٤۷۱) تیلفون: ۲۰۰۷۵
په پیښور کي : دطالبانو نمایندګی تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

په شان په ناڅاپي توګه د افغانستان پر حریم برید وکړي. هغوي زیاتوي ځرنګه چي په اوسني وخت کي د اسلامي امارت پوځونه د خپل هیواد په نورو سیمو کي په عملیاتو بوخت دي نو ایراني پوځ ته به ډیره آسانه وي چي له پولي نه واوړي او د افغانستان پراخي سیمي د یوي مودي لپاره ونیسي. پورتنیو ځرګندونو ته په ځواب کي زموږ هیله دا ده چي په اوسنیو حساسو شرایطو کي چي د افغانستان اسلامي امارت د اسلام د ستر بهوڅي او صلیبي دښمن (امریکی) لخوا تر سخت فشار او مخامخ برید لاندي راغلي ایراني حاکمان به چي د اسلامي جمهوریت مدعیان او په نړي کي د اسلام د بیا احیا او لوړتیا هیله من دي، هیڅکله هم داسي ناځوانمردانه عمل ته زړه ښه نه کړي او نه به د افغانستان پر مقدس حریم باندي د امریکي د نیغ یرغل په دوام په افغانستان برید د ځان لپاره ښه وګڼي.

ایراني واکداران باید پوه وي چي په اوسني عصر کي د افغانستان اسلامي امارت یواځي او یواځي په نړي کي د یوه واقعي اسلامي حکومت په توګه موجود ده او د مسلمانانو دغه ګډ دښمن (امریکا) یي موجویت نشي زغملی نو حرکه یي د ایراني مقاماتو په اصطلاح د ایران د اسلامي انقلاب سره توحه یه سیمه کي د امریکي د تشکیلات او رول ختمول دي نو هیڅکله به هم هغوي د داسي یوه ګاونډي هیواد پر خاوره یرغل ونه کړي کوم چي د مسلمانانو د ګډ دښمن پر خلاف یي د حق آواز اوچت کړي او د کفارو غوښتنو ته یي په ډاګه د نه منلو ځواب ورکړي وي همدارنګه ایراني واکدارانو ته نه ښایي چي د خپلو نړي شموله اسلامي دعوت د ادعاو تر ځنګ خپل یو تینګ عقیدوي او سیمه ایز مرستندوي په داسي سختو شیبو کي چي د نړیوالو کفري ځواکونو تر حملي لاندي دي تر برید لاندي راولي. موږ د ایران د اسلامي جمهوریت مشرانو ته توصیه کوو چي هغوي باید د خپلو شخصي غوښتنو په ځاي د اسلامي امت ګټو ته کلکه پاملرنه وکړي او خپل مسلمان ګاونډي ته د کفارو د حملي په وخت لاس ورکړي، نه چي په خپله پر هغه برید وکړي، چي د خداي «ج» د اوامرو او د اسلام د مقدسو ارشاداتو مقتضي هم د همدا شان دریځ اختیارول دي، خو که ایرانیان هیڅ ته هم ونه ګوری، نه د خداي «ج» حکم ته پام وکړي، نه د اسلام اصول د قدر وړ ربولي او نه د ښه ګاونډیتوب غوښتني په نظر کي ونیسي او خاص د ځو تنو افغان او اسلام دښمنه عناصرو د رضا او خوښي په خاطر په ریښتیا هم د افغانستان په اسلامي حریم تیري وکړي نو بیا دي مخکي له دي کار څخه زموږ د هیواد نژدي او تیر تاریخ ته یو ځغلنده نظر وکړي او وروسته تر هغه دي تصمیم ونیسي، که غواړي چي د انګریز په څیر یي د پوځیانو هډوکي هم ورك شي او د شوروي په شان ټوټي ټوټي او نوم یي د ابد لپاره د نړي له نقشي څخه ووېستل شي نو بیا دي پر افغانستان برید ته زړه ښه کړي. هغوي دي دا خیال نه کوي چي د اسلامي امارت ځواکونه په داخلي تصفیوي عملیاتو بوخت دي او د پولي په شاوخوا کي له دوي سره د مقاومت څوك نشته، بلکه الحمد لله د افغان مجاهد ولس هر نارینه او ښځینه ځوان او سپین ږیري د جهاد په زانګو کي زنګیدلي او جهادي همت یي په متیو کي نغښتي ده، یرغلګرو ته به انشاء الله داسي خوله ماتونکي ځواب ورکړي او د هغوي د هیواد به دننه کي به داسي اوروونه وړته بل کړي چي بیا به د ځان د روغیدو او رغیدو لاره هم ونه مومي، نو د هغوي خوښه چي له موږ سره د اسلامي اصولو او ښه ګاونډیتوب د غوښتنو پر بناء رویه کوي او یا د بي نتیجي دښمني لاره خپلوي.

پټې پاڼې

شهرت ننګیال

د جاسوسي ځاله

په ایران کي د رضا شاه د سلطنتي رژیم په نسکوریدو چي د خمیني انقلاب بریالي شو څو میاشتي وروسته د خمیني د کرښي پیروو محصلینو د امریکي سفارت یرغمل ونیو. دوي د امریکي د سفارت د «جاسوسي ځاله» نوم کیښود تر یوه کاله یي سفارت او دیپلوماتان یرغمل وساتل.

دغو محصلینو نه یواځي دا چي سفارت او دیپلوماتان یرغمل ونیول بلکي د سفارت اسناد او دفتري پاڼي یي هم له ځان سره یوړي چي یوه برخه یي د «اسناد لانه جاسوسي امریکا» تر سرلیك لاندي په څو ټوکونو کي خپره هم کړه.

د ایران واکمنو دا خپل حق ګاڼه چي د امریکي سفارت یرغمل ونیسي، کارکوونکي او دیپلوماتان یي بندیان وساتي، محرم اسناد یي غلا کړي او پدي لار کي د هیڅ ډول دریځ ... هیواد شخصیت منځګړیتوب ونه مني.

ایرانیانو پدي کار ونه کاوه چي د امریکي د جاسوسي ځاله او جاسوسان یي نیولي او خپل غچ تري اخلي.

که څه هم د امریکي سفارت او دیپلوماتان د نړیوالو نورمونو او حقوقو له مخي له دیپلوماتیك مصونیت څخه برخمن وو چي د ایران د نوي رژیم سره یي سیاسي اړیکي هم لرلي خو بیا هم په اصطلاح سخت دریځه محصلینو دي ته هیڅ پام ونه کړ او د خمیني آفرینونه او شاباسونه یي وګټل.

ایراني واکمنو چي پخپل سر د رباني د تش په نوم دولت له کمزوري او ګوډاګیتوب نه په ګټي اخیستو سره په بامیان او مزار کي د قونسلګریو په نوم کومي سیاسي او پوځي اډي جوړي کړي وي هغه په خپله له نړیوالو نورمونو او اړیکو نه ځرګند سرغړاوي دي دا په حقیقت کي د رباني، دوستم او خلیلي د ډلو له پاره د ایران د پوځي مرستو رسولو او وېشلو نمایندګي وي چي د افغانانو پر خلاف یي د پټو تیري پلانونه او پروګرامونه پلي کول.

د حیراني خبره دا ده چي د مزار له فتحي سره ایراني واکمن ددغو په اصطلاح دیپلوماتانو پوښتنه له طالبانو کوي، ایران ښایي د خپلو دغو په اصطلاح دیپلوماتانو پوښتنه له رباني، مسعود، دوستم او خلیلي نه کړي واي چي څه یي کړل او کوم ځای ته یي ورسول.

په دغو ایرانیانو چي هر څه شوي وي مسوولیت یي د رباني، مسعود، دوستم او خلیلي پر غاړه دي، آخرځنګه دوستم، رباني، خلیلي او نور برخي یي له مزار نه صحي سلامت تېښتېدلي شواي او دغه یوولس دیپلوماتان !! نشواي ورسره ملګري کیداي.

د امریکي سفارت او دیپلوماتان چي په قانوني توګه په ایران کي د متقابلو اړیکو له مخي منښت وو، د جاسوسي ځالي او جاسوسانو په نوم تر یوه کاله بندیان او یرغمل وساتل شول خو په مزار کي د ایران قونسلګري چي د اسلامي امارت له اجازي او موافقي پرته یي د جنګي ډلو د تمویل او سر پرستي لپاره فعالیت کاوه دیپلوماتان یولي او اسلامي امارت د هغوي د مصونیت مسوول ګڼي!!! آخر ایران د اسلامي امارت په موافقه او اجازه هلته خپله قونسلګري پرانیستي وه؟ ایران خو د کابل په غرب کي چي عبدالعلي مزاري ورته د ملت غرب کابل خطاب کاوه داسي فعالیتونه لرل لکه هلته یي چي هم ځانګړي سفارت پرانیستي وي.

ایران په بامیان او مزار کي قونسلګري د کوم حکومت په موافقه فعاله کړي او په بامیان کي یي د کومو اهدافو له پاره هوایي ډګر پرانیستي دی

که په ریښتیا هم د ایران دغه په اصطلاح دیپلوماتان یي درکه وي او دوستم او رباني ته وي ورسره بیولي د پوښتني ځاي یي بیا هم دوستم، رباني او مسعود دي.

دوستم چي تر ترکیي، حکمتیار تر ایران او رباني تر تاجکستان رسیدلای شي، ایراني دیپلوماتان له مزار نه تشواي وتلاي؟ که دوستم، رباني، مسعود دومره نمك حرامه وي چي خپل ولي نعمتان یي په بده ورځ یواځي پري ایښي وي بیا هم ددغه ناځواني او نمك حرامي مسوولیت او سلامتیا د دوستم، رباني، مسعود او خلیلي په غاړي ده او ایران ښایي د دوي ګریوان ته لاس واچوي چي په ایراني دیپلوماتانو یي څه وکړل؟

طبیعي دي چي ددي پر عکس ایران د دیپلوماتانو د بي درکي خبره ... سیاسي ګټیو له پاره عنوانوي ... افغانستان اسلامي امارت پر خلاف د فشار په توګه تري ګټیه پورته کوي، که داسي نه وي نو په مزار شریف کي د اسلامي امارت مسولین د یو شمیر نورو ایرانیانو نیول چي د پوځي لاریو چلوونکي وو ځرګنده ... پټوي او نه یي درکه کیږي.

لدي نه ځرګندیږي چي ایران په اصطلاح د دیپلوماتانو مسأله د یوي داسي سیاسي غوغا په توګه عنوانوي چي د نړي پام د خپلو لاسوهنو نه را وګرځوي چي ګڼ اسناد، شواهد او مدارك یي په مزار شریف کي د طالبانو لاس ته ورغلي دي.

کورنی فقه

پرله پسي — ۵۱ برخه

د حضانت پیژندنه

قاضي محمد حسن "حقیار"

د فقهي او لغت پوهانو د «حضانت» د کلمي په هکله ډیره څیړنه کړیده او بیلا بیلي معناګاني یي تري راویستلي دي چي د لغوي معناګانو او اصطلاحي تعریف ته پ کتني سره د ټولو مفهوم تقریباً نږدي ښکاري د حضانت کلمه د فقهي په کتابونو کي ډېر تاریخي قدامت لري او یو فقهي مفهوم دی چي ابس یوه اندازه له خلکو نه هېر شویدی د حضانت کلمی ته یي بیلا بیل تعبیرونه او تفسیرونه پیدا کړیدي. د مفهوم هر چا خپل دود او د شعور تابع ګرځولي دي نو موږ لازم وبلله چي د حضانت لغوي معني او اصطلاحي مفهوم نسبتاً لږ په مفصل ډول وڅیړو تر څو زموږ لوستونکی له دي کلمي او دي شرعي ضروري عمل سره اشنا شي.

مشور فقیه سید سابق په فقه السنه کي لیکي چي حضانت د حاء په زیر سره له حضن نه اخستل شوي دي او حضن د انسان د بدن له تخرګو نه ښکته تر نامه پوري برخي ته وایي او کله چي الوتونکي خپلي هګي تر وزر لاندي ونیسي نو په دي حالت کي عربان وایي چي «حضن الطائر بیضه» یعني: الوتونکي خپلي هګي تر سیني لاندي ونیولي.

همدا راز د ښځي په هکله هم کله چي خپل کوچني سیني ته نږدې کړي همداسي ویل کیږي. فقه السنه دوهم ټوك

په بدائع الصنایع او ضیاء الحلوم کي وایي چي:

حضانت په لغت کي په دوه و معنا و راځي لومړي یي یوي خوا (یو کونج) ته د یو شي ګرځول لکه چي وایي «حضن الرجل الشئ» یعني: سړي شي یوي خواته کړ.

او دوهمه معني یي خپل اړخ ته پیوست کول دي.

او په اصطلاح کي حضانت دیته وایي چي مور کوچني خپلي خواته رانږدي کړي له پلار نه یي لیري کړي ددي لپاره چي د هغه د ساتلو، خدمت، جامو وینځلو او نور خدمت ته اقدام وکړي. بدایع الصنایع امام علاو الدین کاساني

شیخ زین الدین ابن نجیم وایي چي: حضانت د حاء په زور او زیر دواړو سره ویل کیږي او دا د اولاد روزني ته ویل کیږي او حاضنه هغي ښځي ته ویل کیږي چي کوچني په خپله غیږه کي نیسي او روزنه یي کوي. بحر الرایق محور ټوك ۱٦۵ مخ

په قاموس کي وایي چي حضانت د حاء په زبر سره په غیږه کي نیولو، پالني او روزني ته وایي

او په درالمختار کي وایي چي حضانت د حاء په زور او زبر دواړو سره ده او په غیږ کي نیولو ته یي وایي او په اصطلاح کي د هغه چا پواسطه چي د حضانت حق لري د کوچني پالني او روزني ته حضانت وایي درالمختار دوهم ټوك ٦۸۸ مخ

که په دي هکله د فقهاء و د ویناګانو لنډیز یا انجوړ را واخستل شي نو حضانت په لاندي ډول تعریفولي شو:

حضانت د کوچني یا معتوه (هلك وي او که انجلي) په دي ډول ساتلو ته وایي چي د هغه د ژوند هر اړخ ته پاملرنه وشي، دده ګټي وساتل شي له زیان رسوونکو شیانو څخه وژغورل شي، دده جسمي او عقلي پالنه او روزنه وشي، مسؤلیتونه یي ور په ګوته شي او راتلونکي ژوند ته چمتو شي.

په افغانستان باندي د امریکا د حملي د غندني په لړ کي:

دا ده امریکا!

سمیع الله «سمیع»

غواړي چي له خپل ستوني نه تیره کړي دنیا — دا ده امریکا
وایي تل مدام چي: «میم زور ماتوله زما» — — دا ده امریکا
* * *
نن په دي دنیا کي ځان بواځي زور ورګڼي — نور ګڼي نا پوهه خوځان هسي متور ګڼي
خپله د ځان مني بل هیڅ نه مني د چا — — دا ده امریکا
* * *
وایي چي جګړه د تروریزم په ضد کړمه زه — بالکل له دنیا نه تروریزم ورکومه زه
خو خپله کړي حملي تروریستي د شپي په غلا — دا ده امریکا
* * *
چیرته امریکا چیرته واقع افغانستان دي — چیرته پاکستان چیرته واقع هم سوډان دي
خو ولي په «کروز» مسلمانان نن برالا — دا ده امریکا
* * *
نن یي زخمي کړي یي مرجیه د افغان وطن — نن یي خراب کړي د سوجه شان مسلمان وطن
اخلي بدله چي افغانان تري خامخا — دا ده امریکا
* * *
راشي د نړي مسلمانانو ټول یو لاس شي — هسي خپل دښمن ته سره یو په پاك احساس شي
خوري چي ستاسي غوښي او هډوکي یلك تنها — دا ده امریکا

د بشري حقونو په نوم يو لوريزي او تلقيني خبروني

مولوي رحيم الله «زرمتي»

له هغه راهيسې چې د افغانستان د طالبانو اسلامي تحريك په هيواد كې د فساد د رك كولو او هر اړخيزو اصلاحاتو بهير روان كړي دي د غربي كړيوله خوا ورسره جوخت بد تبليغات پيل شوي دي چې لويه برخه يې د بشري حقونو تر عنوان لاندې پر مخ بيوله كيږي، په هره مياشت، نيمه مياشت كې د بوې ډلې ډاكټرانو، يا بشري حقونو د پلويانو(!) ، يا د فلاني او فلاني ډلې له خوا د ډلـ ايزو ارتباطاتو په وسايلو كې په منظمه او بدرنګه بڼه د غربي حلقو په تلقين سره داسې خبري خپريږي چې ګواكې په افغانستان كې طالبان بشري حقونه تر پښو لاندې كوي ...؛ له هغه وخته تر دا ننه ورځې پورې چې الحمد لله اوس په هيواد كې د اسلامي امارت تر بختور توغ لاندې سر تر سره امنيت تأمين شوي، د فساد، لوټمارۍ او تيري مخ پرته شوي، د مفسدينو او ملحدينو دروستي بوټي ځالې د بيخي نړيدلو په حال كې دي، له دې وروسته به ان شاء الله- ټولي بد مرغي زمونږ له ګران ټاټوبي نه كډه كوي، هيوادال به د خوشحالۍ او ښيرازي ژوند له سره پيل كوي، لا بيا هم د غربي كړيوله پلوه د حقونو! سندره دا يو رنګه زمزمه كيږي؛

دا ځكه چې دوي له اسلامي نظام او شريعت سره دښمني لري د نړۍ په هر ګوټ كې چې د اسلام نوم اخستل كيږي او يا څوك اسلامي نظام راو ستلو ته په كار كوي په سل رنګه مكرونو هڅه كوي چې هغسې هلې ځلې په نطفه كې خنثى كړي:

. په تيره بيا چې د افغانستان اسلامي امارت د لسګونو زرو نخبه او سپېڅلو علماو او طالبانو كرامو له قربانيو وروسته اسلامي شريعت عملاً نافذ كړي شرعي حدود او قصاص يې اجرا كړي دي د غربي او شرقي مفسدو كړيو په كور تندر پريوتلي دي او په سل رنګه منفي او درو غژني ډنډوري غږوي، د مخالفينو كه هر څه كړي وي د هغو په هكله يا هيڅ نه وايي يا ډير لږ څه وايي هغه وخت چې د اسلامي امارت په زرهاوو تنه علماي كرام، طالبان او مجاهدين د كفري سازش په نتيجه كې د جوزجان په دښتو كې شهيدان كړاى شو، د بشري حقونو غدارو دعوه كوونكو څه وكړل ؟ په دغه وخت كې چې د افغانستان اسلامي امارت اوس نږدي په ټول هيواد كې امن راوستلى دى په نړۍ كې اسلامي او ځينو نورو هيوادونو او ځينو نړيوالو ټولنو په دې خبره ټينګار كاوه چې د رسميت پيژندنې په لارو چارو وغږيږي او له دې نه زيات په واقعيتونو سترګې پټې نه كړي ځكه له واقعيتونو څخه له دې وروسته سترګي پټول او انكار كول د دولتونو او نړيوالو ټولنو په حيثيت او پرستيژ بده اغيزه كوي او داسې معلوميږي چې هر څه د امريكې او چا و چا په اجازي پوري تړلي دي،

په عين وخت كې يو ځل بيا د بشري حقونو سندرو زور واخيست او د كلنټن اداري هم د كروز توغنديو په توغولو مرسته ورسره وكړه، نړۍ د دغه عملونو په غندنه بوخت شوه او د رسميت پيژندنې انګازې ورسره غلي شوې.

رښتيا چې د كلنټن منتر د افغانستان د اسلامي امارت د رسميت پيژندلو انګازې غلي او ان چې زمونږ په دوستانو يې هم چوپتيا خوره كړه كه څه هم د مونيكا د ياري انګازي ورسره چوپې نه شوې:

كه د نړۍ د هيوادونو دغه بې وخته چوپتيا نور هم دوام وكړي نو د سياسي او فكري خپلواكي اصلي ځيره به وځليږي ، ټول به ورياندي وپوهيږي او هر څه به بې تر سوالونو لاندې راشي:

د بشري حقونو په هكله د افغانستان اسلامي امارت په وار وار اعلان كړي دي او بيا به يې هم كوي د بشري حقونو په زړه پوري او كامل تصوير يوازې په اسلامي شريعت كې دي، ځكه چې شرعي حقونه د بندګانو لپاره الله تعالى ټاكلي دي، له خالق جل جلاله نه پرته به بل څوك د مخلوق په حقونو ښه وپوهيږي ؟ هيڅوك نه؛ غربي نړۍ چې د بشري حقونو په هكله يو څه وايي هغه ډير نيمګړي او محدود تصور دي په تيره بيا د ښځو په حقونو كې خو مخلوط نظام د دوي په نزد مركزي ټكي دي چې ددغسې نظام له امله د امريكي جمهور رئيس بل كلنټن هم په شرمو شرميده:

د افغانستان اسلامي امارت د ښځو په حقونو كې تر ټولو ددوي د شخصيت او عزت تحفظ اهم ګڼي او د هغه لپاره يې تر اوسه ډير كار كړي دي، د افغانستان اسلامي امارت د غرب هغه ريكارډ هم مات كړ چې ښځو ته له كاره پرته تنخواه نه وركوله كيږي، د افغانستان اسلامي امارت د دفترونو كارمندو ښځو ته له كار نه پرته تنخواه وركوي،

د افغانستان اسلامي امارت به د دښمنانو او بد خواهانو له ګډوډو چيغونارو سره سره د خپلو خويندو او لوڼو لپاره په اقتصادي، تعليمي او اجتماعي لحاظ ډير كار وكړاي شي ان شاء الله شرعي حقونه به د غربي حقونو ځاي ونيسي، ځكه چې غربي حقونه، حقونه نه دي بلكي د بدو غرضونو لپاره يې وسيله ګرزولي دي او حق د باطل ځاي خامخا ونيسي:

د افغانستان اسلامي امارت به د خپل وس په كچ د خپلو هيوادوالو په خدمت بوخت وي، د خپل ويجاړ هيواد ابادولو ته يې ملا تړلې ده كه نړيوال، اسلامي هيوادونه او دوستان مرسته كوي او كه يې نه كوي مونږ ته د الله تعالى مرسته بس ده.

رویاي جهان سالاري امریکا

داکتر محمد نذیر احمدزي

یکتن از دانشمندان مشهور امریکایي بنام «هوفمان» که اکادمیسین امور سیاسي و اقتصادي نیز میباشد و مدت زماني هم به صفت نماینده خاص ایالات متحده امریکا در ملل متحد ایفاي وظیفه نموده و در جریان پژوهش مسایل سیاسي، پیشنهادات و طرح هاي متعددي غرض جهان سالاري امریکا ریخته و به مقامات قصر سفید غرض تطبیق و تعمیل پیشکش نموده، در ضمن یکي از نظریاتش در مورد رول و نقش امریکا در مستقبل جهان گفته است : امریکا منحیث برادر بزرگ جهان مسولیت هاي خود را به گونه، احسن انجام داده، حقدار آنست که در آینده خیلي نزدیك مقام «پدرجهان» را کسب نماید.

در پیشنهاد فوق «هوفمان از یك جانب جهانیان را مخاطب قرار داده و آنها را وامیدارد تا مرهون عنایات امریکا بوده و بنا بر نقش کلیدي بمب اتومي اش در جنگ دوم جهاني، لازم است تا منحیث برادر بزرگ در جهان پذیرفته شود از جانب دیگر بنا بر ضربه هاي شدیدي که در جریان جنگ سرد از جانب امریکا بر حریفش اتحاد شوروي سابق وارد گردیده و بالاخره در نتیجه مقاومت و جهاد ملت دلیر افغان، شوروي از نقشه جهان کشیده شده و اکنون امریکا یکه تاز میدان گردیده بنا به نظر هوفمان بعد از این باید امریکا به عنوان پدر جهان عرض اندام نموده و جهان را اداره کند.

هنري کیسینجر وزیر خارجه اسبق امریکا که از یهودیان خیلي متعصب و سنگدل بود پیرامون پیشنهادات هوفمان نظر خویش را موافق به طرح هوفمان نشان داده و ستراتیژي رسیدن به این هدف را در چوکات کلمات «گام به گام» پیشنهاد مینماید یعني کیسنجر نیز جهان سالاري امریکا را یك امر ضروري دانسته اما انتخاب سیاست گام به گام و مرحله به مرحله را براي رسیدن به این مامول راه بهتر و موثر تر میداند چون بعد از کمونیزم، اسلام دشمن نمبر امریکا پنداشته مي شود، نکته خطرناك نیز همین ستراتیژي و انتخاب راه امریکا در برابر مسلمانان است که بعد از سقوط شوروي دولت مردان امریکایي به تعمیل آن آغاز نموده اند. امریکائیان بصورت واضح و علني بعد از سقوط شوروي، اسلام و تحریك هاي جوان اسلامي را در جهان مانع رویا هاي جهان سالاري خود دانسته و خود را مجبور مي بینند تا غرض رسیدن به هدف نا مقدس اش در جهان مانعه اخیر را نیز از سر راه دور کند مطابق طرح هاي سیاسیون قصر سفید براي اداره جهان نظام واحد و نوینی باید ایجاد و امریکا به صفت اداره چي و رهبر آن قبول گردد. در این راستا در برابر حریف دومي (اسلامي) امریکا به ستراتیژي گام به گام کیسینجر یهودي عمل نموده و در عرصه، حادثات و واقعات چندین سال اخیر بوضوح مشاهده میگردد که عمل بر طرح کیسینجر آغاز گردیده و مبارزه مرحله به مرحله بر ضد اسلام و مسلمانان از جانب امریکا با کمال احتیاط و قبول مصارف هنگفت آغاز گردیده است که مسلمانان جهان نباید از این حقیقت غافل باشند و نباید بنا بر غفلت و اختلافات دروني شان لقمه، چرب حلقوم یهودي هاي حاکم بر قصر سفید گردند. مسلمانان جهان با توجه عمیق به عملکرد ها و اتخاذ سیاست هاي گوناگون امریکا در برابر مسلمانان، باید هر چه زود تر بفهمند و سر حال آیند که محض با نجات از پنجه هاي خونین کمونیزم صاحب هستي هاي خود نگردیده اند بلکه دشمن قویتر، مکارتر و خونخوار تر دیگري در صدد نابودي شان است. اتخاذ سیاست هاي چند گونه امریکا در برابر مسلمانان واضح میسازد که امریکائیان مرحله به مرحله و مطابق به مقتضاي شروط و زمان، براي نابودي مسلمانان پارچه بلند کرده است. چنانچه سردمداران قصر سفید پلان هاي متنوعي در مورد طرح و در وقت ضرورت آنرا مورد تعمیل قرار داده اند بطور مثال دیده مي شود که در چند مملکت اسلامي امریکا با حمایت نظامي، سیاسي و اقتصادي حکمرانان اجیر آنها، همه کاره آن ممالك گردیده ، برخي دیگر از کشور هاي اسلامي را چنان تخویف و تهدید نموده که حاضر به دادن پایگاه هاي نظامي به امریکا شده و استقلالیت خویش را باخته اند و چندي را به نام هاي حامي تروریزم و غاصب حقوق بشر ، در نتیجه اي تطبیق جنایت تحریمات اقتصادي بر آنها، اوشان را مجبور به تسلیمي به خواسته هاي خود ساخته است . در شرایط فعلي عربستان سعودي، کویت، امارات و بعضي از کشور هاي دیگر خلیج را تحت اسم دفاع از حاکمیت و استقلال شان، به پایگاه هاي نظامي و مستعمرات غیر رسمي خود مبدل نموده، مصر، فلسطین و پاکستان را متقاعد نموده که اگر حمایت امریکا با آنها نباشد از جانب اسرائیل و هندوستان نابود خواهند شد، افغانستان، عراق، ایران و برخي دیگر از کشور هاي اسلامي را به اتهام داشتن سلاح هاي ذروي و کیمیاوي ، حمایت تروریزم، تولید مواد نشه اي، غصب حقوق بشر و حقوق زن، مورد تاخت و تاز هاي مستقیم نظامي، تبلیغاتي، سیاسي و تحریمات اقتصادي قرار داده تا حکام ممالك اخیر الذکر را به نوعي از انواع مجبور به قبولاندن سیاست هاي خود در جهان بسازد همه ما به چشم سر دیدیم که کشتار هاي بیرحمانه مسلمانان چیچن، بوسنیا و کوسووا را امریکائیان مسایل داخلي آن کشور ها قلمداد نمودند ، غصب حقوق زن را در فرانسه ، ترکیه، هندوستان و اکثریت دیگر ممالك غربي، شیوه نظام دیموکراسي مي پندارندو از تولید هزاران تن مواد مخدر توسط برما تا آنکه از جانب کدام سازمان و یا اداره دیگر جهاني مجبور نه گردند هیچ یادي هم نمیکنند خودش با چندین کشور پیشرفته حامي اش شب و روز به تولید اسلحه اتومي مصروف است اما ممالك اسلامي را اگر در این راه فکري کنند مجرم مي پندارد بنا، واضح است که اتخاذ سیاست چند گونه در قبال عین مسایل از جانب امریکا، نتیجه تعقیب همان ستراتیژي مرحله به مرحله حکومت امریکا به منظور احراز مقام «پدر» در جهان است. امریکا اکنون دریافته که اکثریت ممالك اسلامي یا از طریق سردمداران غربگرا ، یا در نتیجه تهدیدات منطقوي و بین المللي، یا مشکلات و مجبوریت هاي اقتصادي و یا هم بمنظور دفاع از حاکمیت و استقلال خود از حملات دشمنان همسرحد شان، به دامن وي افتاده اند و نقاط مقاومت ممالك اسلامي فقط در سه نقطه متمرکز است. عراق، افغانستان مجاهدین عرب مقیم فلسطین و غیره کشور هاي اسلامي. امریکا در شرایط کنوني غرض تحقق امید جهان سالاري خود فقط همین جناح ها را مخالف بالفعل و موثر خود شمرده و براي از بین بردن آها دست به کار است عراق را تحت چتر فیصله هاي سازمان ملل متحد به مخروبه مبدل ساخته و با تحریمات طولاني اقتصادي اش حتي از اطفال شیر خوار عراق نیز انتقام گرفت، بر ضد امارت نو به پا ایستاده، اسلامي افغانستان مصروف طرح دسایس و بهانه هاي پي در پي بوده و مجاهدین عرب را نیز از فلسطین گرفته تا نقطه اخیر جهان تحت نام تروریست مورد حمله و نشان ترور قرار داده و خود را از مقاومت آنها مطمئن میسازد.

اکنون براي همه مسلمانان جهان واضح گردیده که بعد از ختم کمونیزم، اسلام هدف دومي حملات امریکا میباشد اما حاکمان اکثریت ممالك مسلمان آنقدر غافل و خواب برده اند که با ملاحظه این همه حرکات و تلاش هاي دشمنانه امریکا، باز هم سرحال نه آمده و راه چاره را جستجو نمیکنند بنا، در این مرحله حساس تاریخ امید همه مسلمانان جهان فقط و فقط به همین چند حرکت محدود اسلامي در ممالك مسلمان و امارت جوان اسلامي افغانستان است که اگر نصرت خداوند ج، با اوشان همراه بودي از چنگال خونین امریکا نجات شان خواهد داد. اما صرف به این امید نشستن هیچ دردي را دوا نمیکند با وجود آنکه مجاهدین فداکار اسلام در همه اکناف و اطراف عالم شب و روز در فکر استقرار نظام عدل الهي و رهایي ممالك اسلامي از تصرفات یهودیان و همدستان شان مي باشد بر مسلمانان جهان نیزلازم است تا از خواب غفلت بیدار شده، در اطراف علماي شان جمع گردیده، امرا و حکام خواب برده شان را از حساسیت اوضاع و سرنوشت مسلمانان در جهان واقف ساخته و در جهت تحکیم اخوت، وحدت ، همکاري و تعاون اسلامي در سراسر گیتي قدم هاي استوار و موثر بردارند. اگر خدا نا خواسته مسلمانان جهان و حکام آنها از غفلت خود دست نکشیده و در فکر سرنوشت ممالك و ملل شان نگردند خداناخواسته دور نخواهد بود که درگیر پنجه هاي خونین صهیونیزم و صلیبیون گیر آمده و زندگي ذلیل غلامي را بدبختانه صاحب خواهد گردند. بر خلاف اگر مطابق به حکم قرآن، مسلمانان جهان اصول اسلامي را مشعل راه شان قرار داده شیوه اخوت و وحدت بین مسلمین را حیات جدید بخشیده و اصل تعاون و همکاري بین مسلمانان را به پیش گیرند به یقین گفته میتوانیم که انشاء الله هیچ نیروي در جهان موجود نخواهد بود تا بر خلاف امت اسلامي قد علم نموده و ادعاي سالاري جهاني را نماید که اضافه از یکملیارد نفوس آن را بندگان مسلمان و مجاهد خداوند لایزال تشکیل داده است .

طنز

د ښاغلي بل کلنټن سره د افغان ژورنالست مرکه

ح. حق

پوښتنه : ښاغلي جمهور رئیس روغتیا او جوړتیا مو څرنګه ده !

ځواب : سر بیره پر هغه چه زه هر سهار دوه ساعته منډې وهم خو بیا هم کله چه د مونیکا لیونسکي په ناروغي اخته شوي یم . د روغتیا حالت مي زیښت خراب شویدي.

پ : ښاغلي کلنټن د امریکا خلکو ته د خپل دولت شپې کلن کار او خدمتونه څرنګه ځیري او هم په کورنیو چارو کې د خپل دولت مشکلات کوم بولي !

ځ : زما اداري په تیرو شپږو کلنو کې د امریکا ملت ته د یادوني وړ خدمتونه کړي دي خو د کومه وخته چه د مونیکا لیونسکي جنسي سیاسي بحران را مینځ ته شویدي زمونږ ټول خدمتونه یې تر اغیزي لاندې راوستي دي هیله ده زه او د امریکا ملت ددې ناوړي پیښې څخه ژر تر ژره خلاصون ومومو هیله ده دا بحران په «آب او عزت» پاي ته ورسیږي .

پ : د امریکا د دولت د مشر په حیث خپل د باندني پالیسي ، لاس ته راوړنو او د اسلامي ستري نړۍ سره خپلو اړیکو ته څرنګه کتنه کوي !

ځ : د نړۍ والو لاس ته راوړنو او د باندني پالیسي په ډګر کې د همدي مونیکا لیونسکي له برکته موږ ډیر ستر او د پاملرنې وړ بریالیتوبونه ګټلي دي، موږ د عراق او لیبیا پر مسلمانانو خلکو په ډول ډول بې بنسټه پلمو څو څو ځله بمونه او راکټونه وغورځول، د عراق مسلمان ملت مو تر پانګیز ، تجارتي بندیز لاندي راوستي دي. په ترکیه بل اسلامي هیواد کي مو د نجم الدین اربکان اسلام پلوه ګوند او قانوني دولت را چپه کړ. د الجزایر په مسلمان هیواد کي مو اسلام پلوه ګوند پري نه ښود چه د دیموکراتیکو ټاکنو د بریالیتوب پر بنسټ قدرت ته ورسیږي. د فلسطین د مسلمان ملت د خود ارادیت حق او قانوني دولت جوړیدنه مو لا هغسي ګړکیچنه او بې کومي پیلامي ساتلي ده . او د اسلامي نړۍ سره مو د خپلو ښو اړیکو او ښه نیت د ثبوت لپاره تیره اووني د افغانستان او سودان په اسلامي هیوادونو باندي راکټي بریدونه وکړل. د پورته واقعیتونو پر اساس، په ښه ډول څرګندیږي چه موږ د اسلامي نړۍ سره څومره همدردي او نیکي ښکي لرو!

ب : ښاغلي جمهور رئیس ! مهرباني به موږ ته راته ووایاست چه د افغانستان پر سوله خوښوونکو او ځپل شوو مسلمانانو ستاسو د وروستیو راکټي بریدونو غوره عامل او انګیزه څه وه ؟

ځ : مونیکا لیونسکي !

پ : ښاغلي کلنټن، ولې مو افغانستان او سوډان په دغه ټاکلي وخت کي د خپلو راکټونو اهداف وګرځول ؟

ځ : هیله ده د افغانستان او سوډان خلك او اسلامي نړۍ زمونږ مشکل درك کړي. نوموړي دوه هیوادونه ددې لپاره زمونږ د راکټي بریدونو اهداف وګرځیدل چه د مونیکا لیونسکي د زوروونکي رسوایي نه د امریکا د خلکو په پام اړولو کي تنوع او نوښت راشي آیا هیله لري زمونږ د ټولو ګوزارونو او بریدونو ډګر یوازې لیبیا او عراق وي ؟! د اسلامي اخوت او وحدت په خاطر هم چه وي، باید اسلامي نړۍ زمونږ د بریدونو، راکټونو او بمونو بار په خپلو مینځونو کښي سره وویشي. زمونږ «بشر دوسته» «دیموکراسي خوښوونکي» هیواد باید ونه لمسول شي چي خپلي ټولي حملي او بریدونه یو. او یا دوه اسلامي هیوادونو ته متوجه کړي. اسلامي هیوادونه باید پخپله دانصاف له کړکۍ نه زمونږ دغه مشکل ته نظر واچوي.

پ : ښاغلي د امریکا مشره! د تروریزم په هکله ستاسو نظر څه دي ؟

ځ : په ملي او نړي وال ډګــر کي د امریکا د ناخوښۍ هر عمل او د امریکا د ګټو مخالف او پرته هره کړه نه تروریزم دي. د امریکا «د لوټي دیموکراسي» «بشردوستانه» او «تمدن» بریدونو ، راکټي ګوزارونه، او د نورو هیوادونو په کورنیو چارو کي لاس وهنه د نړي وال تروریزم سره زمونږ پر حقه او سوچه مقابله او مبارزه ده .

وروستي پوښتنه : ښاغلي د امریکا د دولت جمهور رئیس ! وروستي پوښتنه ستاسو په اجازه داسي وړاندي کیږ د اسلامي نړي سره خپل د دولت د راتلونکو اړیکو برخه لیك په تیره پر افغانستان او سوډان ستاسو د راکټي بریدونو نه وروسته څرنګه ځیري !

ځ : دا ټول په دغي ښځي مونیکا لیونسکي پوري اړه لري که رښتیا درته ووایم، که څه هم د امریکا خلك شاهد دي چي د رښتیا ویلو عادت نلرم، د امریکا د دولت د مشر په حیث د همدي ښځي له له کبله خپل برخلیك او راتلونکي راته روښانه نه ښکاري، اسلامي او غیر اسلامي نړي او د هغو سره اړیکي خو لا ها خواته پریږده!!

مولوي فضل احمد "فيضان" معين وزارت ...

جريان اين سفر با محترم وزير نفت و گــاز، وزير خط آهن و معـين وزارت تجارت كشـور تركمنستان ملاقات صورت گرفت و در رابطه به صــدور تيل و گــاز مايع به افغـانسـتـان با ايشـان موافقه صورت پذيرفت .

همـچنان وزيران متـذكره آن كشور در قسمت ترميم و احياي ذخيره گاه هاي گاز مايع، ترميم و صـدور پرزه جـات مـاشـين آلات فابريكه هاي افغانستان كه از اثر جنگهاي گذشته آسيب ديده است آمادگي خويش را ابراز نموده و اطمـينان دادند. كـه در صـورت خـواست امـارت اسـلامي ايشـان حـاضـر به اعـمـار خط آهن از تورغندي الي چمن بوده و تأكـيد نمـودند كـه از جـانب شـان در عرصه، تجارت با امارت اسلامي افغانستان هيچ نوع مشكلي وجود نداشته و امارت اسلامي مي تواند نمـايندگي تجارتي خويش را در عشق آباد تأسيس نمايد.

محـترم مـعين وزارت تجارت اظهار نمود كه با تورید تيل از آن جمهوريت عرضه تيل در كشور از طريق رياست عـمومي مواد نفتي و گاز مايع صورت خواهد گرفت . و انشـاء الله مـشـكلات وسـايل ترانسپورتي از اين ناحيه مرفوع خواهد شد. محـترم معين وزارت تجارت افزودند طي سفر خويش در تركمنسـتان با تجار ملي افغاني نيز صحبت و تبادل نظر نموده و محترم محمد شريف رئيس شركت تجارتي آقمرادباي و محترم عطايي به نماينده گي از ساير تجار افغاني مقيم آنجا وعده نمودند كه در آينده نزديك به تجـارت و صـدور مواد مورد ضرورت به افغانستان اقـدام نمـوده و حـالا كـه اوضـاع سياسي كشور رو به بهبود ميباشد و امنيت مطمئن تأمين گرديده است سـرمايه هاي خويش را دو باره به كشور انتقال خواهند داد .

محترم مولوي وكيل احمد متوكل در مصاحبه با ...

در حـاليكـه امـارت اسـلامي افغـانسـتـان مطابق شريعت اسلامي حقوق زنان را رعايت نموده و تعليم و تربيـه زنان را حق مـسلم زنان ميداند ولي هيچگاه طرفدار آموزش زنان به تعاليم ضد اسلامي و غربي نمي باشد،زيرا كـه جوامع غـربي با دين و كلتور افغاني ما در تفاوت و مغايرت كامل قرار دارند.

همچنان محترم متوكل در رابطه به حـمـلات راكـتي امـريكا به افغانستان و عكس العمل سازمان ملل متحد اشاره نموده گفت سازمان ملل متحد نتوانست تا حملات راكتي و تروريستي امريكا را به افغانستان و سودان محكوم نمايد كه نشانه از عدم داشتن اراده و آزادي سازمان ملل متحد ميباشد.

د سمنـــــگان ولايت د راډيو اخـــستونكي دستگاه پرانستل شوه

د هيواد د فرهنگي او نشراتي مركزونو د بيا جوړولو په لړ كي د سمنگان ولايت د شريعت غږ راديو اخستونكي دستگاه پرانستل شوه او د گټي اخيستو وړ وگرځيده .

د ايبك له ښـار نه د باخـتـر اطلاعـاتي اژانس خـبـر راكـړ : د سمنگانو ولايت د سيمه ئيزي راډيو، اخيستونكي دستگاه چي له څه مودي را پديخوا د تخنيكي عوارضو له امله له فعاليت نه پاتي شوي وه په دي وروستيو وختو كي د اطلاعاتو او كلتور وزارت د تخنيكي هيئت له خوا چي فنتحه شويو ولايتونو ته تللي دي بيا فعاله او د گټي اخيستو وړ وگرځيده .

ددي دستگاه د فعاليت د بيا پيل كيدو په وخت كي استول شوي هيئت او د سمنگان ولايت د سيمه ئيزي راډيو كار كوونكو گډون كړي و .

مسابقات ورزشي فتبال بين تيم هاي مدارس شهر كابل و تيم هاي وزارت داخله طور جداگانه صورت گرفت

مــسابقات ورزشي فـتبـال بين تيم هاي مـدارس شـهـر كـابل و هـمچنان بين تيم هاي سپورتي الف و ب وزارت داخله طور جداگانه در مـيدانهاي ورزشي مدرسـه اماني و قـصـبـه كارگري صورت گرفت .

خـبرنگار آژانس اطلاعـاتي باختـر خبر ميدهد در مـسـابقات ورزشي فـتبـال كه بين ورزشكاران مدرسـه اماني و مدرسه عبدالهادي داوي صـورت گرفت مـسـابقـه يك مـقابل يك مساويانه خاتمه يافت .

همچنان در مسابقه فاينل كه بين تيم هاي فـتبـال (الف) و (ب) وزارت امـور داخله در ميدانهاي ورزشي قصبه كارگري صورت گرفت در نتيجه تيم سپورتي گروپ (ب) غـالب شناخته شد.

در ادامـه مـسـابقـات فـتبـال، مـسـابقات زيبـايي اندام و كـاراته نيـز مـيـان تيم هاي ورزشي وزارت امور داخله انجام يافت .

د زرنـــــــج په ښار كـــــي په يو تن غله باندي د زرگـــونو هيـــــــوادوونو پــــــه وړانـــدي شــــرعي حـــد تطبيق شو

د نيمروز ولايت د مركز زرنج په ښار كي په يوه تن غله باندي په داسي حال كي شرعي حد تطبيق شو چي ددغه ولايت په زرگونو تنه ديندار خلك حاضر وو.

د باختـر اطلاعـاتي آژانس خبر راكړ : د زرنج ښار اوسيدونكي سيف الدين د محمد نبي زوي چي څه موده پخوايي د لسو مليونو افغانيو په ارزښت له يوي اندازي نغدو پيسو سره زموږ ديوه تن هيواد وال مالونه غلا كړي وو او د نيمروز ولايت امنيتي موظفينو له خوا نيول شوي و دغه غله د تحقيق په بهير كي له جبر او زور پرته د دغه ولايت په قضايي محكمو كي په خپل جرم اعتراف وكړ او د جمادي الاول په لمړي نيته د زرگونو تنو هيوادوالو په وړاندي د محكمي د حكم له لوستل كيدلو وروسته د غله ښي لاس غوڅ كړاي شو .

در حدود ۱۶۹۳ ميل سلاح ...

وجود مخالفين و مليشه ها تصفيه گرديده در تامين امنيت و اعاده صلح در مناطق مربوط شان سهم ارزنده داشتـــــه و با اداي دين اسلامي و مبهني شان در جمع آوري سلاح و مهمات كه توسط مخالفين امـارت قبـلاً در نقـــــاط اين ولايات انبار ذخيره و طـــــور مخفي جا بجا شده بود همـــكاري صادقانه نموده اند

سيمينار تربيوي لابراتوار ...

مالي سازمان صحي جهان در كابل داير گرديده است ۲٤ تن از پرسونل فني و مسلكي وزارت صحت عامه اشتراك داشته و به مدت ۲٤ روز ادامه ميابد.

هنگام افتتاح سيمـنار مذكور محترم الحاج شير محـمد عباس ستانكزي معين وزارت صحت عامه در رابطه به اهمـيت و ضـرورت تدوير سيمينار متذكره صحبت نموده نقش آنرا در بلـنـد بردن سطح دانش و معلومات مسلكي پرسونل لابراتوار ارزنده تلقي نمود.

زمونږ د هيواد په مقدس ...

او مظاهرو كي ويناوالو د امريكي دغه غير انساني عمل ته د انتقاد گوته ونيوله او په افغانستان او سوډان بي د امــــــريكا راكټي بريدونه د نړيوالو اصولو او موازينو خـــــلاف وبلل.

ددغــو مظاهرو ويناوالو ددغـه انسـاني او اسلامي ضد عـمل له عاملينو څخه غوښتنه وكړه چي له وژني څخه لاس واخلي اعظم له دي زيات دي خانونه نه شرموي.

دغه مارشونه او مظاهري د كندز ولايت د امام صاحب د ولســوالي د متدينو خلكو، د خوشي ولسوالي د ماموريتو او متدينو خلكو، د امام اعظم «رح» د مدرسي د طالب العلمانو او استادانو ، د خوشي د مدرسي د طالبانو، د شبـرغـان د ښـار شريفـو خلكو، د ارزگـــان ولايت د هراوو د ولسوالي د مسلمانو خلكو ، د ســـمنگانو ولايت مـتـديـنو خـلكو او هـــرات د متدينو خلكو له خوا وشوي د يو بل ربوټ له مـخي د بلوچـــستـان په ايـــالت كي افغاني مهاجرينو او په اسلام اباد كي د پـــاكستان په زرگونو تنو د پوهنتونونو محصلينو او اســتادانو دهند مسلمــــانانو ، افغان مهاجرينو او د پېښور متدينو خلكو په خپلو پراخو مظاهرو كي د افغانستان او ســــــوډان پر حريم د امــــريكا راكټي بريدونه وغندل او د امــريكا دغـم اقـــدام يي تروريستي عمل وگاڼه .

په الهي نصرت سره د پروان ...

ټول اداري واحــــدونه له پراخي ساحي سره چي د شيـوي دره، استـامـــه دره، ذردره، چار دره، كـفـتـان دره، او هيـر دره په كي شامل دي په الهي نصرت سره په بشپړه توگه د فاسدو عناصرو له وجوده پاكه شوه او د افغانستان د اسلامي امارت سپين بيرغ د هغي ولسوالي په ټولو سيمو كي رپانده شو .

د افغانستان د اسلامي امارت د اتل اردو د مـجاهدينو په دغـو تصفيوي عمليـاتو كي د مخالفو مليشو سل تنه اسير شوي او سل تنه د مولانا يوسف ، گل مير خان او قوماندان نسيم په قوماندہ له خپلو وسلو سره د تصـفـيـوي عملياتو په بهير كي له مجاهدينو سره يو ځاي شول.

په دي عملياتو كي د دښمن يو شمير افراد مړه او ټپيان شوي دي چي د وژل شويو مړي لا تر اوسه د جگړي په ډگر كي پراته دي.

دغـه راز په دغـو بريـاليـو عمـلياتو كي يوه اندازه ډول ډول وسلي او مـــهـــمـــــات او پوځـي وســايط چي دري ټانكه يو پنځـــه اوبا ملي مټري توپ شپږ زيكويو دوه سوه ډول ډول وسلي يو موټر او يو بــــــولدوزر په كي دي د افـــغـانســـتـــان د اسلامي اردو مجاهدينو ته په لاس ورغلي دي.

شبكه مخابراتي اداره ...

دو باره شـبكه مـخـابراتي كـه به تاريخ ٥ جمادي الاول مورد استفاده قـرار گرفت با تمـام مـيدان هاي هوايي و استـيشن هاي هواشناسي افـغانسـتـان ارتباط و تمـاس هاي مجدداً تأمين گرديده كه از طريق فعـاليت آن مـشكلاتيكه در شـبكه هواشناسي و هوانوردي موجود بود اكنون مرفوع گرديده است .

در فعال ساختن شبكه متذكره كـه تسـهـيلات فراوان در زمـينه مساعد ساخته انجنيران و كارمندان فني رياست هواشناسي تلاش بيشتر به خرج داده كه از فعاليت صادقانه آن توسط مســؤولين تقدير بعمل آمد.

پروتوكول فعاليت هاي ...

پاكسـتان و از طريق پاكسـتان با ساير كشور هاي جـهـان در حـاليكه الحـاج مـلا الله داد «طيب» مـعـين وزارت مـخـابرات ، مـولوي سـردار شيـرزاد نماينده وزارت امور خارجه ، نماينده سفارت امارت اسلامي مقيم اسلام آباد و مـحترم عزيز احمد خان سفـير جـمهوري اسـلامي پاكـسـتـان در امـارت اسـلامي افغانسـتان نيز حاضر بودند توسط نمايندگان تخنيكي هر دو كشور به امضا رسيد.

د گډون بيه له هيواد نه بهر

ملك	شپږ	كلني
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150

د شريعت تبصره

عاشوراي سوم !!؟

دهم محرم و يا عاشـورا يكي از روز هاي مهم در تاريخ اسلام و حتي در تاريخ بشريت ميباشد كه از آن مسلمين درس شهامت ، متانت ، صبر و استقامت در مقابل قدرت هاي طاغوتي و استبدادي آموخته و براي مسلمانان اين روز از اهميت خاصي برخوردار ميباشد .

رژيم ايران روبهمرفته از احساسات مذهبي مردم خود و شيعه يان جهان به خصوص شيعه يان منطقه غرض اهداف به خصوص قشري و ناسيوناليستي خويش استفاده برده و از اين رهگذر در صدد تضعيف وحدت ملي و اعمال نفوذ خويش در كشور هاي منطقه ميباشد .

فاجعه دردناك چند سال اخير كشور ما كه در نتيجه توطئه، به رهبري و طرح روسيه و ايران در افغانستان در وجود اداره ائتلاف رباني بر ملت مجاهد افغان تحميل گرديد ، صدمات جبران ناپذير بر وحدت ملي ،پيكر اقتصادي، اداري ، سياسي و فرهنگي كشور ما وارد آورد ، افغانستان را عملاً به واحد هاي مختلف تحت تاثير گروهك هاي جاني، قاتل و بي فرهنگ تجزيه و تقسيم نمود كه در نتيجه آن آنچه بر ملت مجاهد افغان آمد به گفته، «عيان را چه حاجت به بيان» به توضيح آن ضرورت باقي نميماند.

حسب وعده الهي «ج» كه اجر محسنين را ضايع نميگرداند. ذات كبريايي ملت مجاهد افغان را باز هم مورد لطف خويش قرار داده از زوال هميشگي نجات شان داد و تحريك اسلامي طالبان اين فرزندان مجاهد و صالح جامعه روحانيت و ملت عزيز افغان در حساس ترين شرايط تاريخي كشور قد علم كرده در بدل ايثار و قرباني بيدريغ و تاريخي ، كشور را از سقوط حتمي به نصرت خداوندي نجات بخشيد كه با فتح مزار شريف - اين بزرگترين لانه توطئه ها عليه حاكميت ملي و تماميت ارضي كشور- پروسه وحدت ملي و تماميت ارضي در ملك ما تقريباً به پايه اكمال رسيد كه اين امر بر روسيه و اقمارش در منطقه و به خصوص براي زمامداران ايراني سخت ناگوار تمام شد ، زيرا همه سرمايه گذاري هاي گزاف كه براي تأمين اهداف سؤ مذهبي ، كلتوري و اقتصادي خود ها در افغانستان كرده بودند يكسره با خاك يكسان گرديد كه از اين رهگذر زمامداران ايراني به شوك عصبي مبتلا شده به هزيان گويي و استعمال كلمات ناشايسته و دور از عفت اغاز نمودند و در اين اواخر به تمرينات عسكري تحت نام «عاشوراي سوم» در سرحدات كشور ما مبادرت ورزيدند تا اگر توانسته باشند اذهان عامه ملت ايران را از شكست هاي افتضاح آميز خود به طرف ديگر متوجه سازند: زيرا سياست هاي زمامداران ايراني در قبال قضيه افغانستان مورد انتقاد حلقه هاي خبير و غير متعصب ايراني قرار گرفته است و از جانب ديگر براي عناصر ائتلافي كه دچار شكست تاريخي گرديده و مورال خود را به كلي از دست داده اند اعاده مورال و به زعم فاسد خود براي اوشان دو باره جاي پاي در كشور ما مهيا سازند.

گرچه بعضي از تحليلگران اين را هم بعيد نميدانند كه هدف ايران از اين تمرينات نظامي قصد سؤ بر افغانستان باشد و آن كشور براي تأمين اهداف شوم خود دست به كدام اقدام نظامي بزند . هدف ايران از تمرينات نظامي (عاشوراي سوم) هرچه باشد ، ما در زمينه توجه ملت ايران و زمامداران بد مست آن كشور را به عواقب ناگوار و نهايت خطر آميز آن متوجه ساخته،خاطر نشان ميسازيم كه اول بايد ملت ايران متوجه عواقب حركات تهديد آميز و اشتعال انگيز زمامداران خود در سرحدات كشور ما شده نگذارند كه زمامدران ايراني از احساسات نيك مذهبي آنها استفاده ناشايسته نموده حركات نا عاقبت انديشانه نظامي خود را در سرحدات كشور اسلامي افغانستان نام و عنوان مذهبي داده آنها را اغفال نمايند . دوم اينكه زمامداران ايراني بايد بدانند كه جهان كفر به خصوص غرب با نشان دادن چراغ هاي سبز،زمامداران ايران را غير مستقيم و احياناً مستقيم تشويق ميـنمايند كه پايش را در افغانستان دخيل نمايند،زيرا آنها ميدانند پاي هر متجاوز كه در افغانستان داخل شده سالم بر نگشته ، زمامداران ايراني بايد متوجه باشند اگر مرتكب چنين اشتباهي شدند هرگز ان را جبيره نخواهند توانست ؛ زيرا يكي اينكه دشمني ملت افغانستان را كمايي خواهند كرد كه عواقب آن در طول تاريخ همه را معلوم است دوم به مجرد كه پاي ايران در قضيه افغانستان مستقيم دخيل گرديد از عقب به تعذيرات و تهديدات نظامي و اقتصادي بلاك كفري مواجه خواهد شد كه همچو عراق هيچگاه نخواهد توانست كه خود را از ان سالم عقب زند،بلكه در نتيجه،قواي دو كشور اسلامي به نفع كفر بين المللي از بين رفته زمينه، اعمال بيشتر و قاطع نفوذ كفر بين المللي در منطقه مساعد خواهد شد و به اصطلاح ، كفر جهاني به يك تير دو فاخته را شكار خواهد كرد - خداي نخواسته - پس لازم است كه زمامداران ايراني به اهميت موضوع پي برده در صدد برادري و همكاري هاي مشترك با كشور برادر خود افغانستان بر آيد به يقين گفته ميتوانيم اين امر به نفع دو كشور، استقرار صلح و ثبات در منطقه خواهد شد و اين دو كشور به همكاري همديگر بزرگترين قدرت اسلامي را در منطقه تشكيل خواهند داد .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press